دو فصلنامهٔ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنۍ مجله

د امتیاز خاوند: لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسهٔ تحصیلات عالی لوگر    تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# د المشقة تجلب التیسیر فقهی قاعدې څېړنه اوتطبیقی بېلګې

**نوماند پوهنیار صفی الله حقمل**

فقه او قانون څانګه، شرعیاتو پوهنځی، د لوړو زده کړو مؤسسه، لوګر: افغانستان

ایمیل آدرس: safiullahhaqmal۲۶@gmai.com

## خلاصه

**د مسئلې بیان:** د (المشقة تجلب التیسیر) قاعده د فقهې له هغو لویو، معتبرو او مهمو قاعدو څخه دی چې د فقهې په سلګونو فروعی مسایل ددی قاعدې تر حکم لاندې شامل دي، پهدی قاعده کې د اسلامي شریعت د حکمونو تخفیفات (د عباداتو، معاملاتو او شخصي احوالو او د ژوند په نورو برخو کې) موجود دي، د مذکورو مسایلو بیانولو ته په ورځنی ژوند کې اشد ضرورت دی.

**د څېړنې اهمیت:** د انسانانو په ورځني ژوند کې د (المشقة تجلب التیسیر) قاعدې رول بیانول.

**د څېړنې موخې:** د (المشقة تجلب التیسیر) فقهي قاعدې څېړنه او په ورځې ژوند کې یې د حنفي مذهب مطابق تطبیقی بېلګې بیانول.

**د څېړنې میتود:** یاده څېړنه د کتابتونی میتود (تحلیلی میتود) څخه په ګټې اخېستنې سره تر سره شوې، پدی څېړنه کې له معتبرو فقهي کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې.

**موندنې:** د د غې موضوع د تحقیق په ترځ کې د موضوع مطابق معاصرې تطبیقې بېلګې بیان شوی دی چې په راتلونکو مقالو کې وجود نلري. همدا رنګه د عباداتو، معاملاتو او شخصي احوالو په باره کې په مستقل ډول تطبیقي مثالونه وړاندې شوي دي

**د څېړنې پایله:** اسلامي شریعت د افراط او تفریط تر منځ متوسط، او د انساني فطرت سره موافق دین دی چې د انسانانو د ژوند ټول اړخونه یې په نظر کې نیولي، هېڅکله یې هم په خپلو افرادو داسی احکام نهدی مقرر کړی چې د هغوی له طاقت څخه لوړ وي.

**کلیدی کلمی:** حنفي فقه - مشقت – اسانتیا - لاملونه – تطبیقي بېلګې

**استناد:** حقمل، صفی الله .(١٤٠٤). د المشقة تجلب التیسیر فقهی قاعدې څېړنه اوتطبیقي بېلګې. دوفصلنامه علمی-تحقیقی عینک، سال دوم، شماره ٤، صفحات ١٨٥-١٩٨.

ناشر: مؤسسه تحصیلات عالی لوگر

حق‌مؤلف © نویسندگان.

**مقدمه/ سریزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادى له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله أما بعد:

اسلامي فقه د اسلامي امت لپاره هغه لویه علمي پانگه ده چې را تلونکی نسلونه به همیشه ور باندې ویاړي، اسلامي فقه په حقوقي مسایلو کې نه یوازې د اسلامي امت لپاره بلکې ټول بشریت ته د هدایت یوه روښانه ډیوه ده.

دا علم د مجتهدینو او فقهاوو د ا ستخراج او استنباط ثمره ده، چې د هغوی د کوښښونو او زیارونو په پایله کې موږ ته را پاتې ده، فقهي قاعدو د اسلامي شریعت د اصولو د پلټنې په نتیجه کې د فقهاوو د استنباط په اساس جوړ شوی دی چې د هرې فقهي قاعدې لاندې بې شمېره فروعات او مسایل موجود دي.

**الف: د مسئلې بیان**

د (المشقة تجلب التيسير) قاعده د فقهې له هغو لویو، معتبرو او مهمو قاعدو څخه دی چې د فقهې په سلگونو فروعي مسایل ددې قاعدې تر حکم لاندې شامل دي، د مذکورې قاعده صحیح زده کول او تطبیق په حقیقت کې د سلگونو فقهي مسایلو د زده‌کړې په معنی دی، په‌دې قاعده کې د اسلامي شریعت د حکمونو تخفیفات (د عباداتو، معاملاتو او شخصي احوالو او د ژوند په نورو برخو کې) موجود دي. ددې قاعدې زده کول او د ژوند په ټولو اړخونو کې تطبیقول د هر مسلمان خصوصاً د محصلینو لپاره ډېر اړینه ده. له همدې امله مې و غوښتل چې په‌دې موضوع باندې لیکنه وکړم، تر دې پورې چې ټولنه د شریعت د حکمونه له تخفیفاتو څخه خبر او د ژوند په ټولو اړخونو کې یې عملي کړې؛ تر څو ټولنه په تکلیف کې واقع نشي.

**ب: د څېړنې اهمیت:**

څرنگه چې د (المشقة تجلب التيسير) فقهي قاعده د حنفي فقهي له لویو او معتبرو قاعدو څخه شمېرل کیږي، تر دې چې دغه قاعده د څلورو واړو مذهبونو تر منځ اتفاقي قاعده ده، ډېر فروعات لري او د فروعاتو لاندې یې بې شمېره مسایل موجود دي، بناءً ددې قاعدې زده کول په حقیقت کې د بې شمېره فقهي مسایلو د زده‌کړې په مانه دی، بناءً د مذکورې قاعدې څېړنې او د معاصرو بېلگو بیانولو ته زیات اړین دی.

**ج: : په‌دې اړه مخکیني تحقیقات:**

۱- المشقة تجلب التيسير د ولید عبد الله اسماعیل، مجله جامعة کرکوك للدراسات الانسانیة، المجلد السابع، العدد:۱ السنة السابعة:۲۰۱۲م

په یاده مقاله کې د مذکورې قاعدې مقارنه له وضعی قوانینو سره شوې ده.

۲- قاعدة المشقة تجلب التيسير فی أحکام القضاء د أ.م.د. محمد أحمد مطر، جامعة الفلوجة، کلية العلوم الانسانية، مجلة العراقية، العدد:۵۸ جلد:۲

یاده مقاله کې یوازې د قضایي عباداتو په هکله تطبیقي مثالونه ذکر شوي دي.

۳- تطبیق قاعدة المشقة تجلب التیسیر فی تحویل باقی الثمن باالمثمن الی المشتری د وحیودی بکری، کلیة الشریعة، جامعة دار السلام، ۲۰۱۸ Journal Al-Muamalat

یاده مقاله یوازې په بانکي او نقدی معاملو کې د دغې قاعدې تطبیق کوي.

**د: د څېړنې موخې**

**عمومي موخې**

- د انسانانو په ورځنی ژوند کې د (المشقة تجلب التیسیر) قاعدې رول بیانول.
- د مذکورې قاعدې اهمیت او حکمتونه بیانول.

**فرعي موخې**

- د حالاتو د سختوالي په حالت کې د اسلامی شریعت د حکمونو اسانتیا بیانول.
- په عباداتو، معاملاتو او نورو مسایلو کې د مذکورې قاعدې رول او تطبیقي مثالونه کوم دي.

**ه: د څېړنې پوښتنې**

**عمومي پوښتنه**

کله چې د حکمونو په تر سره کولو کې حرج واقع شي، اسلامي شریعت په‌دی اړه کوم دریځ لري؟

**فرعي پوښتنې**

- په عباداتو، معاملاتو او نورو مسایلو کې د مذکورې قاعدې رول او تطبیقي مثالونه کوم دي؟
- د (المشقة تجلب التیسیر) فقهي قاعده د انسانانو په ژوند کې څه ارزښت لري او حکمتونه یې څه دي؟
- د حنفي مذهب مطابق د مذکورې قاعدې فروعي مسایل او احکام کوم دي؟

**مواد او کړنلاره:**

زما د موضوع د تحقیق تګلاره استقرایی ده، د فقهی او اصول فقهی اصلي مصادرو د مطالعی په نتیجه کې مې د علماوو د اقوالو په رڼا کې دغه موضوع څېړلی ده او د یادې قاعدې لپاره مې تطبیقي بېلګې وړاندی کړي دي.

**. لومړنی معلومات**

**۱,۱ د قاعدې لغوي او اصطلاحي تعریف**

**۱- لغوي تعریف**

قاعده په لغت کې اساس او تهداب ته وايي، لکه دا قول د عربو: (قواعد البيت) يعنی اساس د کور، جمع یې قواعد دی[۸۱]. الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِذْ يرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيتِ وَإِسْمَاعِيلُ﴾[۸۲]
نو قواعد د یو شي اصل او اساس ته وايي، برابره خبره ده که هغه حسي وي، لکه د کور تهداب او دیوالونه او که معنوی وي، لکه د شریعت قواعد.[۸۳]

**۲- اصطلاحي تعریف**

قاعده یو مجموعی حکم دی چې په خپلو ټولو جزئیاتو یې تطبیقېږی.[۸٤]

**۲,۱ د فقهي قاعدې او فقهي ضابطې تر منځ توپیر**

فقهي قاعده د فقهي ضابطې په نسبت پراخه او وسیع مفهوم لري، فقهي قاعده د فقهي مسائلو تر یو خاص باب پورې نه منحصر کېږی، مگر فقهي ضابطه د فقهي تر یو خاص باب پورې تړاو لري، یعنی قاعده د مختلفو بابونو څخه فروعات ټولوي او ضابطه د یو خاص باب څخه فروعات ټولوي[۸۵].

**۳,۱ دفقهي قاعدې او اصولي قاعدې تر منځ توپیر**

اصولی قواعد عام دلیلونه دي او فقهي قاعدې حکمونه دي، یعنی اصولي قاعدې د شرعي حکمونو په استنباط کې په کار وړل کیږي، مجتهد د همدې اصولي قاعدو په رعایت سره د خطاء او ښوییدنې څخه ژغورل کیږي؛ اما فقهي قاعدې شرعي حکمونه گڼل کېږي.[۸٦]

**۴,۱د فقهي قاعدو اهمیت**

فقهي قاعدو باندې پوهه حاصلول د یو فقیه لپاره خورا زیات اهمیت لري، ځکه دا قاعدې د ډېرو فروعاتو د پلټنې په نتیجه کې منځ ته را غلي دي، دیوې قاعدې صحیح زده کول او بیا په خپل ځای کې صحیح تطبیقول په ډېرو فقهی فروعاتو باندې د پوهېدو مانا لري.[۸۷]

---

[۸۱]- معجم مقاییس اللغة" (۱۰۸/۵)، "القاموس المحیط" (ص:۲۹۵)

[۸۲]- سورة البقرة – ۱۲۷- آیت

[۸۳]-جرجانی، علی بن محمدبن علی، التعریفات، دار الکتب العربی، بیروت،ط:۱-۱۴۰۵هق

[۸٤]- حموی، احمد بن محمد الحنفی، غمز عیون البصائر فی شرح الاشباه و النظائر، (ت۱۰۹۸هق)-(صـ:۲۲)
القحطاني، ابو محمد صالح بن محمد بن حسن القحطاني، مجموعة الفوائد البهیة علی منظومة القواعد الفقهیة، دار الصمیعي، المملکة العربیة السعودیة، ط: ۱ – ۱۴۲۰هق – (صـــ: ۱۹)

[۸۵]- سیوطی، جلال الدین عبد الرحمن بن ابي بکر الاشباه و النظائر، ، دار الکتب العلمیة، بیروت، ط:۱-۱۴۰۳هق- (۷/۱)

[۸٦]- ابن تیمیه، مجموع الفتاوی، تقي الدین ابو العباس احمد بن عبد الحلیم الحرانی، (ت۷۲۸هق) ریاض-ط:۱-۱۳۸۱هق-(۱٦۷/۲۹)

[۸۷]- عزام، شهید عبد الله ، القواعد الفقهیه، ، مرکز الشهید عزام الاعلامی، ط:۱-۱۴۰۲۰هق – (۱۳-۱۴)

**۲. د (المشقة تجلب التيسير) فقهی قاعدې تشریح او څېړنه**

مشقت په لغت کې سختي ته وايي او تيسير اسانتيا ته وايي، يعنی هر کله چې سختي راشي نو په شرعي حکمونو کې په مکلف باندې اساني راځي او دا ځکه چې په دين کې حرج مرفوع دی خو دا په‌دې شرط چې له کوم نص سره ټکر و نه‌لري، مذکوره قاعده د فقهي قاعدو له لويو قاعدو څخه شمېرل کيږي او د اسلامي شريعت ډيری رخصتونه د همدې قاعدې څخه اخيستل شوي دي.[۸۸]

**۱،۲ د (المشقة تجلب التيسير) فقهی قاعدې توضيح او اثبات د قرآنی ايتونو په رڼا کې:**

۱- الله ﷻ فرمايي: ﴿**يرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيسْرَ وَلَا يرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ**﴾[۸۹]

ترجمه: الله په تاسو د خير اراده لري او په تاسو باندې د شر اراده نلري. (له همدې امله يې د مرض او سفر په حالت کې د روژې خوړل ستاسو لپاره مباح گرځولي دي.)

۲- ﴿**مَا يرِيدُ اللَّهُ لِيجْعَلَ عَلَيكُمْ مِنْ حَرَجٍ**﴾[۹۰] ترجمه: اراده نه‌لري الله ﷻ (د تطهير په تکليف کې پر تاسو دا) چې مقرر کړي پر تاسو څه حرج (تنگوالی يا سختي)

۳- ﴿**لَا يكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا**﴾[۹۱] ترجمه: نه مکلف کوي الله ﷻ هيڅ نفس مگر په اندازې د طاقت دده.

۴- ﴿**يرِيدُ اللَّهُ أَنْ يخَفِّفَ عَنْكُمْ**﴾[۹۲] ترجمه: اراده لري الله ﷻ ددی چې سپک کړي بار له تاسو څخه.

۵- ﴿**لَيسَ عَلَى الْأَعْمَى حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى الْمَرِيضِ**﴾[۹۳] ترجمه: نشته په ړانده باندې سختي (گناه) او نشته په گوډ باندې تکليف او گناه او نشته په مريض باندې تکليف او گناه په ترک د جهاد کې، ځکه چې جهاد په دوی باندې فرض نه دی.

پورتني او د هغو په شان د قرآن عظيم الشان نور آيتونه په دی دلالت کوي چې په اسلامي شريعت کې په مکلف باندې د حکمونو په تعميل کې حرج مرفوع شوی دی، او په‌دی حکمونو کې داسی څه نه ليدل کيږی چې د مکلف له توان څخه پورته وي. د همدې نصوصو په رڼا کې فقهاوو دا قاعده استباط کړې ده؛ تر څو نور واقعات او مسايل د همدې قاعدې په اساس حل و فصل کړی.

**۲،۲ د (المشقة تجلب التيسير) فقهی قاعدې توضيح او اثبات د نبوی احاديثو په رڼا کې.**

د مذکورې قاعدې د تائيد په اړه ډير نبوي احاديث راغلي دي، چې په لاندی ډول يې يادونه کيږي.

---

[۸۸]- محمد حسن عبد الغفار، القواعد الفقهية بين الاصالة و التوجيه، مؤسسة الرسالة، ط:۱ – ۱۴۳۲هق (۳/۸)

[۸۹]- سورة البقرة – ۱۸۵- آيت، د قرآنکريم د آياتونو په ترجمه کې د کابلي تفسير څخه استفاده شوي ده.

[۹۰]- سورة المائدة – ٦ - آيت

[۹۱]- سورة البقرة – ۲۸٦- آيت

[۹۲]- سورة النساء- ۲۸- آيت

[۹۳]- سورة الفتح – ۱۷ - آيت

۱- «إِنِّی لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيةِ ولاَ بِالنَّصْرَانِيةِ، وَلَكِنِّی بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيةِ السَّمْحَةِ»[۹٤]
ترجمه: زه په یهودیت او نصرانیت سره نه یم را لیږل شوی بلکه په اسانه او حنیفي دین را لیږل شوی یم.
۲-عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِی صلی الله علیه وسلم قَالَ: «يسِّرُوا ولاَ تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا ولاَ تُنَفِّرُو»[۹۵]
ترجمه: له حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبی ﷺ و فرمایل: اسانتیا وکړئ او سختي مه کوئ او زیری ورکړئ او نفرت مه خپروئ.
۳- «إِنَّ دِينَ اللهِ فِی يسْرٍ»[۹٦]
ترجمه: د الله پاک دین په اسانی کې ده یعنی د خلکو لپاره یې احکام اسانه کړي دي.

**۳. د (المشقة تجلب التیسر) قاعدې د تطبیق ساحه، د مشقت ډولونه، د تخفیف اسباب او د تخفیف ډولونه:**

**۱،۳ د المشقة تجلب التیسیر قاعدې د تطبیق ساحه:**

علامه ابن نجیم رحمه الله فرمایی: «المشقة والحرج إنما یعتبران فی موضع لا نص فیه، وأما مع النص بخلافه فلا»[۹۷]
ترجمه: مشقت او حرج ته په هغه ځای کې اعتبار ورکول کیږي چې هلته نص موجود نه وي، مگر که چېرې نص راغلی وي، نو بیا مشقت او حرج ته اعتبار نشته او په نص به عمل کیږي.

**۲،۳ د مشقت (سختي) ډولونه:**

سختي په دوه قسمه ده:

**الف: المشقة المعتادة: (هغه سختي چې په غالب ډول عبادات له هغې څخه خالي نه وي):**

لکه د یخنۍ وجود د اودس او غسل پر وخت ، د روژې سختي په گرمی او لویو ورځو کې، د جهاد او حج د سفر سختي او داسی نور، نو دا ډول سختي د عبادت په اسقاط کې تأثیر نه لري، مگر په هغه حالت کې د جنوب لپاره تیمم جواز لري چې د هغه د نفس او یا د یو اندام د له منځه تللو وېره وي.[۹۸]

---

[۹٤]- احمد ابن حنبل، الامام احمد ابن حنبل، مسند احمد، مؤسسة الرسالة، ط:۱ – ۱۴۲۱هق،(٦٢۴/٣٦)
[۹۵]- البخاري، صحیح البخاري، أبو عبد الله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة، الطبعة السلطانیة، ط:۲-۱۳۱۱هق-(۲۵/۱-٦٩)
[۹٦]- احمد ابن حنبل، الامام احمد ابن حنبل، مسند احمد، مؤسسة الرسالة، ط:۱ – ۱۴۲۱هق (٢٦٩/٣۴)
[۹۷]- ابن نجیم، زین الدین بن ابراهیم بن محمد، الأشباه و النظائر - (ت ۹۷۰هق)- ط:۱- ۱۴۱۹هق - صـ:۷۲
۱۷- ابو محمد، صالح بن محمد بن حسن، بحوث لبعض النوازل الفقهیة المعاصرة، دار الصمیعي، المملکة العربیة السعودیة، ط: ۱ – ۱۴۲۰هق - (۲۵/۲۳)
[۹۸]- الرمیحي، علي بن رمیح بن علي الرمیحي، الآراء الفقهیة المعاصرة المحکوم علیها باالشذوذ في العبادات، دار التحبیر للنشر والتوزیع، ریاض، سعودی، ط:۱ – ۱۴۰۴هق (٦٩٩/۱)

**ب: هغه سختي چې په غالبو اوقاتو کې عبادت له هغې څخه خالي وی او دا په دوه ډوله دی:**

**۱- لويه سختي:** لکه د نفس او يا يو اندام د ضايع کېدو ويره، نو دا ډول وېره د تخفيف سبب دی،

**۲- وړه سختي:** لکه د ګوتې عادي درد او د سر عادي درد، نو دا ډول سختي د عبادت په سقوط کې تأثير نه لري.[۹۹]

**۳,۳ د تخفيف اسباب:**

د تخفيف اسباب (۸) دی، چې له سفر، مرض، اکراه، هيرې، ناپوهي، سختي عموم البلوی او نقصان څخه عبارت دي.[۱۰۰]

د هر يو سبب لپاره په ترتيب سره مثالونه په لاندی ډول بيانېږي.

**د سفر لپاره مثالونه:**

۱- د يو شخص له طرفه د خپل ملګري مال خرڅولو جواز او او دهغه د وارثانو لپاره د پيسو ساتل چې د کوم ولايت او وصايت پرته صورت و نيسی، کله چې دغه شخص په سفر کې مړ شي او هلته قاضي نه وي، ځکه چې سختي اسانتياوې را منځته کوي.

۲- همدا رنګه د لمونځ قصر او مسح په موزو باندې د سفر له تخفيفاتوڅخه دي.[۱۰۱]

**دمرض لپاره مثالونه:**

**۱-** په ناروغ باندې د حد د اقامه کولو ځنډول تر رغيدو پورې.

۲- همدا رنګه که داسې ناروغي موجود وي چې د وطی کولو څخه مخنيوی کوي، نو په‌دې حالت کې خلوت نه صحيح کيږي، که دغه ناروغي په خاوند کې وي او که په ښځه کې وي.

**۳-** د نفس او يا د يو غړي د تلف د وېرې او يا د مرض د زياتوالي له امله تيمم کول، فرض لمونځ په ناسته او يا په ملاسته او اشاری سره کول.[۱۰۲]

**د اکراه لپاره مثالونه:**

**۱-**کله چې د مکره لپاره د نفس او يا د هغه د بدن د يوه غړي د تلف وېره وي، او مکرِه په‌دې کار قادر هم وي.[۱۰۳]

**د هېرې لپاره مثالونه:**

۱- ټول علماء په‌دې متفق دي چې هېره د آخرت عذاب له منځه وړي، کله چې هېره په داسې يو عمل کې واقع شي چې عذاب واجبوي او د الله ﷻ د حقوقو له جملې څخه وي، نو دا هېره ددی عقاب په

---

[۹۹]- تير مصدر، صـ: ۷۰

[۱۰۰]- تير مصدر - صـ: ۶۴-۷۲

[۱۰۱]- تير مصدر، صـ:۶۴

[۱۰۲]-ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد، (ت ۹۷۰هق)- ط:۱- ۱۴۱۹هق - صـ: ۶۴

[۱۰۳]- زرقاء، شرح القواعد الفقهية، الشيخ احمد بن شيخ محمد، مطبعة العربی الاسلامي، ط:۱- ۱۴۰۳هق

ساقطولو شبه ګڼل کیږي، البته د بنده ګانو په حقوقو کې عذر نه ګڼل کیږي، نو که چیرې یو انسان د بل انسان مال د هیرې په حالت کې له منځه یوسي نو په ده باندې تاوان لازمیږي.[۱۰۴]

هېره دنیوي او اخروي مؤاخذه ساقطوي، مګر په قضاء او حقوق العباد کې کومه اغېزه نه‌لري، چا چې لمونځ په خپل وخت کې هېر کړ د لمانځه ضایع کوونکی نه ګڼل کیږي او چا چې د حلالې پر وخت د الله پاک نوم هېر کړ نو مذبوحه یې پاکه ده او چا چې د هېرې په حالت کې په روژه کې خوراک او څښاک وکړ نو روژه یې نه ماتیږي.[۱۰۵]

**د نا پوهۍ لپاره مثالونه:**

۱-که شفعه لرونکی د بیعې په اړه نا خبره وي، د شفعې غوښتلو په اړه یې نا خبري یو عذر دی او شفعه یې نه باطلیږي.

۲-کوم شخص چې په نا پوهۍ سره شراب و څښل، نو مؤاخذه پرې نشته، نه حد او نه تعزیز پرې جاری کیږي.

۳-که چېرې یو شخص د دار الاسلام څخه لرې ځای کې مسلمان شو او د اسلام په حکمونو نه پوهېده، نو دا نا پوهی یې عذر دی، او د دینی واجباتو په ترک سره مجرم نه ګڼل کېږي.

۴-که چیری وکیل او یا قاضی پر عزل باندې خبر نه وي، او یا محجور په حجر باندې خبر نه وي د دوی تصرفات تر هغه پورې صحیح کېږې چې خبر شي.[۱۰۶]

**سختي او عمومي افتونو لپاره مثالونه:**

**۱-** د تعلیم پر وخت د کوچنیانو لپاره د بې اودسی په حالت کې د قرآن عظیم الشان اخیستل، د ډاکټر له خوا د مریضې پردې ښځې او د قاضی له خوا د شاهدې پردې ښځې ته کتل روا دي همدا رنګه د خاطب نظر کول پردې ښځی ته روا دي.[۱۰۷]

۲-لمونځ کول له هغه نجاست سره چې په شریعت کې عفوه دی، لکه د زخمونو وینه، د ماشو او سپږو وینه چې په بدن باندې ووژل شي، د زوو اوبه، د عامو لارو خټې کله چې د جوماتونو او تګ را تګ په لارو کې پرتې وي، د مرغانو نجاست د غوایانو نجاست کله چې د درمند په وخت کې دانو ته و رسېږي، د پیشو پسخورده او داسی نور.[۱۰۸]

**د نقص او کمزورتیا مثالونه: صغارت او لیونتوب**

---

۱۰۴- سلیم باز، شرح المجله، صـ:۲۸

۱۰۵- عزام، شهید عبد الله عزام، القواعد الفقهیة، مرکز الشهید عزام الاعلامي ط:۱-۱۴۲۰هق- صـ:۱۲۸

۱۰۶- ابن نجیم، الاشباه و النظائر علی مذهب أبي حنیفه، الشیخ زین الدین ابن ابراهیم، ط:۱- دار الکتب العلمیة –بیروت-۱۴۱۹هق(صـ:۲۶۱-۲۶۵)

۱۰۷- الحموي، غمز عیون البصائر في شرح الأشباه و النظائر، أحمد بن محمد الحنفي (ت۱۰۹۸)- دار الکتب العلمیة، بیروت-ط:۱ – ۱۴۰۵هق-(۲۵۹/۱-۲۵۱)

۱۰۸- تیر مصدر صـ:۲۴۸

۱- صغارت او ليونتوب په صغير او ليوني کې اسانتيا را منځته کوي، ځکه دا دواړه اصلاً مکلف نه دي.

**درېيم مطلب: د تخفيف ډولونه:**

۱- د اسقاط تخفيف: لکه د جمعې، حج، عمرې او جهاد اسقاط د عذرونو په وجه

۲- د تنقيص تخفيف: لکه په سفر کې قصر کول.

۳- د تقديمولو تخفيف: لکه د لمانځه جمع کول د عرفې پر ورځ، همدا ډول د فطر د صدقې ورکول، د اختر له ورځې څخه وړاندې او د زکوة ورکول د کال له پوره کېدو څخه وړاندې.

۴- د أبدال تخفيف: لکه بدلول د اوداسه په تيمم سره او د قيام بدلول په ناستي سره.

۵- د تأخير تخفيف: لکه د ددو لمونځونو جمع کول په مزدلفه کې او د رمضان د روژو تأخيرول د مريض لپاره، همدا ډول د لمونځ تأخيرول د هغه چا لپاره چې څوك له اوبو څخه را وباسي.[109]

٦- د ترخيص تخفيف: لکه د نجاست څښل د پېژندنې او درملنې لپاره او د مستجمر لمونځ او په ستوني کې د نښتې مړی د تيرولو لپاره د شرابو څښل د ضرورت په اندازه.

۷- د تغير تخفيف: لکه د لمونځ د نظم تغيرول د خوف په حالت کې.[110]

## ۴. په ورځنی ژوند کې د (المشقة تجلب التيسير) قاعدې تطبيقي بېلګې

### ۱,۴ په عباداتو کې د (المشقة تجلب التيسير) قاعدې تطبيقي بېلګې:

۱-که چېرې په يو شخص باندې په اکراه او جبر سره روژه و خوړل شي؛ نو دده روژه نه ماتيږي، ځکه چې اکراه د تخفيف د اسبابو له جملې څخه ده، همدا رنګه هغه سوروالی چې د غوښې د پخولو په وخت کې د ديګ په سر کې معلومېږي د مشقت له امله عفوه ده.[111]

۲- هر کله چې يو شخص د سفر په حالت کې وفات شي او په هغې ساحه کې قاضي موجود نه وي، نو د هغه د ملګري لپاره جائز ده چې د هغه مال خرڅ کړي او پيسي يې ورثه وو ته تسليم کړی، له دې پرته چې دغه شخص د هغه له طرفه د ولايت او يا وصايت واك ولري.[112]

۳- همدا رنګه هغه شخص چې د لثي (ووريو) څخه يې وينه راځي، دارنګه د بواسيرو وينه که چيرې بېرته مقعد ته داخله شي، نو روژه نه ماتوي، ځکه چې له دغو شيانو څخه په ځان ساتلو کې مشقت دی او مشقت سره د شريعت په حکمونو کې اسانتيا راځي.[113]

### ۲,۴ په معاملاتو کې د (المشقة تجلب التيسير) فقهي قاعدې تطبيقی بېلګې.

[109]- تير مصدر صـ: ۲۷۱

[110]- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد، (ت ۹۷۰هق)- ط:۱- ۱۴۱۹هق - صـ: ۷۲

[111]- الکردي، ابو اويس اشرف بن نصر بن صابر الکردي، سلسلة الفوائد الحديثية والفقهية، دار اللؤ لؤة – مصر، ط:۱ – ۱۴۴۳هق (۳۱۳/٦)

[112]- الزرقـاء، احمـد بـن الشـيخ محمـد الزرقـاء، تحقيـق: مصـطفى احمـد الزرقـاء (ابـن المؤلـف)، الناشر: دار القلم، دمشق – سوريا، ط:۲ – ۱۴۰۹هق ص (۱۵۷)

[113]- اللحجي، عبد الله ابن سعيد اللحجي، ايضاح القواعد الفقهية، ط:۱ – ۱۴۰۳هق

۱- د سفر په حالت کې د مضارب لپاره د مضاربت د پیسو د مصرفولو جواز[۱۱٤]
۲- د مدعي د شواهدو په بناء د مدعي علیه د استوګنې ځای ته د قاضي له خوا مربوطه محکمې ته خط لېږل.[۱۱٥]
۳- هر کله چې مشتري په مبیعه کې داسې عیب پیدا کړي چې په هغه عیب باندې نارینه اطلاع و نه‌لري نو د ضرورت په وجه به د یوې ښځې شاهدي او د مدعي قسم په محکمه کې قبلېږی.

**۳,۴ په شخصي احوالو کې د (المشقة تجلب التیسیر) قاعدې تطبیقي بېلګې:**

**۱- د مضطر لپاره د حرامو غوښو خوړل.**

هرکله چې یو شخص د اړتیا پر وخت کې حرامې غوښې خوري، مردار مایعات څښي، تیمم کوي، د ناروغۍ په سبب لمونځ په اشاره او یا ناسته کوي، یا قبله ورته معلومه نه ده په خپل فکر یوه لوري ته مخ اړوي، یا دماغي ناروغي ور پېښه شوي او یا ښځه د حیض او نفاس په دوران کې وي، چې دا ټول د مشقت او تکلیف حالتونه دي اسانتیاوې را منځته کوي.[۱۱٦]

**۲-** د خپل اولاد لپاره د رزق لاسته را وړلو لپاره د معتدې ښځې له کور څخه وتل.

**۳-** د نسب د حفاظت لپاره د قابلې ښځې شاهدي قبلول.

**۴-** اضطراری حالت کې د بل شخص مال خوړل، په‌دی شرط چې بیا به د هغه تاوان ورکوي، ددې لپاره چې د انسان د ژوند ساتنه وشي.

**۵-** که چېرې یو د زوجینو په داسې ساري او نا علاجه ناروغۍ اخته شي، چې نورې کورنۍ ته هم سرایت کوي نو مقابل جانب کولای شي چې له ازدواج څخه امتناع وکړي، ددی لپاره چې ضرر له منځه ولاړشي.[۱۱۷]

یمکن القول بأن وجه ارتباط هذه القاعدة بالفحص الطبی، أن المشقة التی تحصل للمکلف بسبب الزواج من المرض تُرفع بإلزام الناس بالفحص الطبی، وأن هناك من الأمراض المخیفة التی یخشی علی الزوجین منها، والإقدام علی الزواج دون معرفة تلك الأمراض یهدد کیان الأسرة، وإذا علم أحدهما بأن الآخر مصاب بأحد هذه الأمراض المزمنة أو الخطیرة أو الوراثیة، فینبغی له أن یمتنع عن الزواج دفعًا للضرر (۲).

[۱۱٤]- الزرقاء، احمد بن الشیخ محمد الزرقاء، تحقیق: مصطفی احمد الزرقاء (ابن المؤلف)، الناشر: دار القلم، دمشق – سوریا، ط:۲ – ۱۴۰۹هق ص (۱۵۷)

[۱۱٥]- تیر مصدر: صـــ: ۱۵۸

[۱۱٦]- عزام، شهید عبد الله ،القواعد الفقهیه، ، مرکز الشهید عزام الاعلامی، ط:۱-۱۴۰۲۰هق – (۱۳۹-۱۴۰)

[۱۱۷]- السبیعي، بدر ناصر مشرع السبیعي، المسائل الفقهیة المستجدة في النکاح، مجلة الوعي الاسلامي، کویت، ط:۱ – ۱۴۳۵هق (صـــ: ۱۰۸)

اسلامي شريعت ښځه ماشوم ته په تی ورکولو مجبوره نه ګڼی، مګر که چېرې بله ښځه پيدا نه‌شي او يا دا چې ماشوم د بلې ښځې تی نه نيسي، نو بيا به مور ماشوم ته په تي ورکولو مجبوره کوي، ددې لپاره چې دغه سختي له منځه ولاړه شي.

**٦-** د ښځو او ماشومانو ګواهي په حمامونو او هغو ځايونو کې چې نارينه نه ورځي، ددې لپاره چې حرج رفع شوی وي او د خلکو حقوق ضايع نشي، منل کيږي.[۱۱۸]

۷- د وخت د حاکم تصرف صحيح والی د رعيت په مالونو کې برابره خبره ده که د مال خاوند موجود وي او که‌نه، په هغه وخت کې چې تصرف په حاکم واجب شوی وي او د مال خاوند ورڅخه انکار کوي.[۱۱۹]

**پايليزه:**

۱- د المشقة تجلب التيسير قاعده د څلورو مذهبونو تر منځ اتفاقی قاعده دی.

۲- د فقهي قاعدو مطالعه د طالب العلم او فقيه لپاره د چراغ حيثيت لري، په طالب العلم کې د فقهي ملکه قوي کوي.

۳- د فقهي حکمونو حفظ آسانه کوي، همدا رنګه د فقهې د فرعي مسائلو حفظ ته لار هواروي، او تر يوې خاصې قاعدې لاندې يې را جمع کوي.

۴- فقهي قاعدې د شريعت د مقاصدو او اهدافو په لاسته راوړلو کې خورا ډېره مرسته کوي، ځکه چې د فقهي قاعدو عبارت د شريعت د مقاصدو او اهدافو تصوير په واضح توګه مخاطب ته ښکاره کوي، لکه د (المشقة تجلب التيسير) قاعده چې د شريعت د اساسي اصل (يسر) تصوير مخاطب ته روښانه کوي.

۵- د وضعي قوانينو په جوړولو کې ډېرې مؤثرې واقع کېږي، ځکه چې له‌دې څخه داسې منطقي قوانين جوړيږي، چې په تخفيف، مصلحت او د وخت له ظروفو او امکاناتو سره به برابر او د تطبيق وړتيا به لري، ځکه ددې قاعدې اساس په تخفيف، مصلحت او تسامح باندې ولاړ دی.

**٦-** د (المشقة تجلب التيسير) فقهي قاعده د قرآن عظيم الشان او نبوي حديثونو د نصوصو په رڼا کې فقهاوو جوړه کړې ده.

۷- د (المشقة تجلب التيسير) فقهي قاعده د فقهې له لويو او اساسي قاعدو څخه شمېرل کېږی، چې له فقيه سره د حکمونو په استنباط کې خورا ډېره مرسته کوي، د حکمونو او قوانينو د تطبيق د څرنګوالی په اړه بې شمېره منافع پکې نغښتي دي.

---

[۱۱۸]- اتاسي، محمد خالد، شرح مجلة الأحكام العدلية، مكتبة الحبيبيه كانسی روډ كوئټه، پاكستان

[۱۱۹]- الزركشي، بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر الشافعي الزركشي، المنثور في القواعد الفقهية، تحقيق: د. تيسير فائق احمد محمود، وزارة الاوقاف الكويتية، ط:۳ – ۱۴۰۵هق (۱۷۱/۳)

۸- د اسلامي شریعت ډېری رخصتونه د (المشقة تجلب التیسیر) فقهي قاعدې څخه اخېستل شوي دي.

۹- مشقت او حرج ته هغه وخت اعتبار ورکول کېږي چې په هغو مواردو کې نص موجود نه وي (په هغو مواردو کې چې نص موجود وي له مشقت سره سره نص ته اعتبار ورکول کېږي)

۱۰- هغه مشقت (سختي) ته اعتبار ورکول کیږی چې په غالبو او قاتو کې عبادات له هغې څخه خالي وي، همدارنگه دغه سختي به غټه سختي وي، لکه د انسان د یوه اندام تلف کېدل او یا د انسان مرگ.

۱۱- په اسلامي شریعت کې سفر، مرض، اکراه، هېره، ناپوهي، سختي، عموم البلوي او نقصان د تخفیف اسباب گڼل کېږي.

۱۲- د اسلامي شریعت حکمونه د انسانانو د فطرت موافق را نازل شوي دي، په ځېنو ځایونو کې شارع د حکمونو له بیان څخه سکوت اختیار کړی دی، چې په هر وخت کې د هماغې زمانې مجتهدین او فقهاء د هغو په هکله د وخت او ظروفو له تقاضا سره سم حکمونه استباط او تعین کړی چې دغه چاره هم د اسلامي شریعت په تسامح او کمال او پر دې دلالت کوي چې د شریعت حکمونه په هره زمانه کې د تطبیق وړ دي، د وضعي قوانینو په خلاف چې په هغو کې دغه خاصیت نه‌شته.

## سرچینې


القرآن الکریم

ابن تیمیه، تقی الدین ابو العباس احمد بن عبد الحلیم الحرانی، مجموع الفتاوی، ریاض-ط:۱-۱۳۸۱هق-

ابن نجیم، زین الدین بن ابراهیم بن محمد ، الأشباه و النظائر - دار الکتب العلمیة، بیروت، لبنان، ط:۱- ۱۴۱۹هق

ابو الحارث، محمد صدقی بن احمد بن محمد آل بورنو ابو الحارث الغزی، مؤسسة الرسالة، بیروت، لبنان، ط:۱ – ۱۴۲۴هق

اتاسی، محمد خالد الاتاسی، شرح مجلة الأحکام العدلیة، مکتبة الحبیبیه کانسی روډ کوئټه، پاکستان

احمد ابن حنبل، الامام احمد ابن حنبل، مسند احمد، مؤسسة الرسالة، ط:۱ – ۱۴۲۱هق

البخاری، أبو عبد الله محمد بن اسماعیل بن ابراهیم بن المغیرة، صحیح البخاری، الطبعة السلطانیة، ط:۲-۱۳۱۱هق-

الجرجانی، علی بن محمدبن علی الجرجانی، التعریفات، دار الکتب العربی، بیروت،ط:۱-۱۴۰۵هق

الحموی، احمد بن محمد مکی الحموی الحنفي، غمز عیون البصائر فی شرح الاشباه و النظائر، دار الکتب العلمیة، الطبعة: الأولی، ۱۴۰۵هق – ۱۹۸۵م

زرقاء، الشیخ احمد بن شیخ محمد الزرقاء، شرح القواعد الفقهیة، محقق: مصطفی احمد الزرقاء ابن المؤلف دار القلم، دمشق، سوریا، الطبعة الثانیة، ۱۴۰۹هق-۱۹۸۹م

الزرکشي، بدر الدین محمد بن عبد الله بن بهادر الشافعی الزرکشي، المنثور فی القواعد الفقهیة، تحقیق: د. تیسیر فائق احمد محمود، وزارة الاوقاف الکویتیة، ط:۳ – ۱۴۰۵هق

السبیعی، بدر ناصر مشرع السبیعی، المسائل الفقهیة المستجدة فی النکاح، مجلة الوعی الاسلامی، کویت، ط:۱ – ۱۴۳۵هق

السعیدان، ولید بن راشد السعیدان، تلقیح الافهام العلیة بشرح القواعد الفقهیة، تحقیق: الشیخ سلمان بن فهد، ناشر، بیروت، لبنان، ط:۲ – ۱۴۱۹هق

سلیم باز، سلیم بن سمیح باز العباسی، شرح مجلة الاحکام العدلیة، المطبعة الادبیة، بیروت، ط:۳ - ۱۹۲۳ه

الکردی، ابو اویس اشرف بن نصر بن صابر الکردی، سلسلة الفوائد الحدیثیة والفقهیة، دار اللؤ لؤة – مصر، ط:۱ – ۱۴۴۳هق

محمد حسن عبد الغفار، القواعد الفقهیة بین الاصالة و التوجیه، مؤسسة الرسالة، ط:۱ – ۱۴۳۲هق

السیوطی، جلال الدین عبد الرحمن بن ابی بکر السیوطی، الاشباه و النظائر، دار الکتب العلمیة، بیروت، ط:۱- ۱۴۰۳هق-

عزام، شهید عبد الله ، القواعد الفقهیه، ، مرکز الشهید عزام الاعلامی، بیروت ط:۱-۱۴۰۲۰هق –

الفیروزآبادی، مجد الدین أبو طاهر محمد بن یعقوب الفیروزآبادی"القاموس المحیط" تحقیق: مکتب تحقیق التراث فی مؤسسة الرسالة، بیروت، لبنان، ط:۸، ۱۴۲۶هش

القحطانی، ابو محمد صالح بن محمد بن حسن القحطانی، مجموعة الفوائد البهیة علی منظومة القواعد الفقهیة، دار الصمیعی، المملکة العربیة السعودیة، ط: ۱ – ۱۴۲۰هق

ابو محمد، صالح بن محمد بن حسن، بحوث لبعض النوازل الفقهیة المعاصرة، دار الصمیعی، المملکة العربیة السعودیة، ط: ۱ – ۱۴۲۰هق

القزوینی، أبو الحسین، أحمد بن فارس القزوینی، معجم مقاییس اللغة" تحقیق: عبد السلام، دار الفکر، بیروت، الطبعة: الأولی. ۱۳۹۹هش

اللحجی، عبد الله ابن سعید، اللحجی، ایضاح القواعد الفقهیة، بیروت، الطبعة الأولی – ۱۴۳۷هق

الهاجری، د. حمد بن محمد الجابر الهاجری، القواعد و الضوابط الفقهیة فی الضمان المالی، دار الکنوز الاشبلیة، السعودیة، ط: ۱ – ۱۴۲۹هق

الرمیحی، علی بن رمیح بن علی الرمیحی، الآراء الفقهیة المعاصرة المحکوم علیها باالشذوذ فی العبادات، دار التحبیر للنشر والتوزیع، ریاض، سعودی، ط:۱ – ۱۴۰۴هق

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# دراسة قاعدة (المشقة تجلب التيسير) وتطبيقاتها الفقهية

**الاستاذ صفى الله حقمل**
قسم الفقه والقانون، كلية الشريعة، مؤسسة التعليم العالى، لوگر، أفغانستان
عنوان البريد الإلكترونى: safiullahhaqmal٢٦@gmail.com

**مشكلة البحث:**

قاعدة "المشقة تجلب التيسير" هى من القواعد الفقهية الكبرى والمعتبرة والمهمة، حيث تشمل مئات المسائل الفقهية الفرعية التى تندرج تحت هذه القاعدة. فى هذه القاعدة توجد التخفيفات المتعلقة بأحكام الشريعة الإسلامية (فى العبادات والمعاملات والشؤون الشخصية وغيرها من جوانب الحياة). من الضرورى للغاية بيان هذه المسائل فى حياتنا اليومية.

**أهمية البحث:** توضيح دور قاعدة "المشقة تجلب التيسير" فى حياة الإنسان اليومية.

**أهداف البحث:** دراسة قاعدة الفقهية "المشقة تجلب التيسير" وتقديم أمثلة تطبيقية وفقًا للمذهب الحنفي فى الحياة اليومية.

**منهج البحث:** تم إجراء هذا البحث باستخدام المنهج المكتبى (المنهج التحليلى)، حيث تم الاستفادة من الكتب الفقهية المعتبرة.

**النتائج:** تم عرض أمثلة تطبيقية معاصرة تتعلق بالموضوع، وهى غير موجودة فى المقالات السابقة. تم تقديم أمثلة تطبيقية مستقلة فى مجالات العبادات والمعاملات والشؤون الشخصية، وهى غير موجودة فى المقالات السابقة.

**خلاصة البحث:** الإسلام دين وسط بين الإفراط والتفريط، يتوافق مع فطرة الإنسان، ويأخذ فى اعتباره جميع جوانب الحياة، ولم يشرع أحكامًا تتجاوز قدرة الأفراد.

**الكلمات المفتاحية :** الفقه الحنفي – المشقة – التيسير – الأسباب – الأمثلة التطبيقية.

الاستناد: الاستاذ صفى الله حقمل (١۴٠۴). دراسة قاعدة (المشقة تجلب التيسير) وتطبيقاتها الفقهية. المجلة العلمية البحثية عينك، العام الثانى، العدد الرابع :١٨۵-١٩٨.

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Logar Institute of Higher Education
Vice Chancellor for Academic & Students affairs
Department of Research and Academic Journal

# Ainak Academic- Research Journal

**Vol. 2**
**Issue No. 4**

**June 2025**